
ناول
نیـــمګړی
ژونـــد
Ketabton.com
لیکوال:رفیع الله علي حیدر
ډیزاین: سید ادریس سادات
0731363201

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم . نیمگړی ژوند(ناول)

لیکوال . رفیع الله علی حیدر

پښتی ډیزاین . سید ادریس (سادات)

چاپ کال . ۳\۱۲\ ۱۴۰۱

د لیکوال ۱شماره . 0730432762

د لیکوال ۲شماره . 0797335830

چینل . https://t.me/sadatketabtoon

**که چیرې تاسې هم خپل کتاب ته ډیزاین ورکوی نو له موږ سره په تماس کې شئ...**

**0779011816**

**RAH**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ!

## دا ناول دې زما ګرانې اوخوږې مور جانې ته ډالۍ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه:

د لـــیکــوال خــبری

ګـرانــو اومحــترمــو لـوسـتونکو!

د خـــپل مور او پـــلارخـــدمـــت وکـــړئ.

خـــدای دې نـــکـړي.

کـــه سـبا ســـتاسې مـــور او پـلار لـــه دنـــیا ولاړل، نـــو بـاور وکړئ چـی د خـــپل مـــور اوپـــلار غـــوسه بـــه مـــو هم یـادیګي.

نـــو راشی مـــلـــګرو!

د خـپل مـــور او پـــلار خـــدمـــت وکـــړئ.

مننه او احترامات.

او ستا سې د دعاؤو په هیله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

د سهار اته بجی به وې.

مکتب ته ولاړم.

درس مو ووایه، کورته راغلم مور مې راته چای او ډوډۍ راوړه.

بیرون ولاړم له ملګرو سره می لوبې کولې.

خو چې نا څاپه مې په پلار باندې سترګې ولګیدې.

له کار څخه راغلی وو.

ډېر ستړی شوی وو، په مخ یې د خوَلو لارې جوړې وې.

نو ورمنډه مې کړه پلار مې په غېږ کی ونیوه.

او کور ته راغلو کورکې مو سودا خلاصه وه.

او له پلار سره می روپۍ هم نه وې.

پلار مې د چای سره سپوره ډوډۍ وخوړه زه ډېر خفه شوم.
پلار می چای وڅښه.

ماته یې ویل:

علي حیدره زویه!
درس دې وایه کوښښ کوه زما ګرانه زویه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماورته وویل:

سمده پلار جانه درس مو ویلو وخت تېرېده.

ځلور میاشتنی امتحانونه راورسېدل.

استاذ په صنف کې وویل:

سبا سهار به د پارچو د چاپولو لپاره شل شل افغانی راوړئ.

نن لاړشئ سبا روپۍ هم درسره راوړئ.

ټول لاړؤ خپلو کورو ته زه چې کور ته راغلم،

مورمې راته ډوډی راوړه.

ما ورته وویل:

مورجانې په مکتب کې رانه شل روپۍ غواړي د پارچو د چاپولو لپاره

مور مې وویل:

سمده زویه چی پلار دې بیګا راغی.

ورته وایه!

سمده مورې بیګاه مې پلار راغی.

سترې مشې مې ورسره وکړه، هغه دیر ستړی شوی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو يې بالښت ته ځنګ وواهه.

ما ورته وويل:

پلار جانه!

په مکتب کې رانه روپۍ غواړي.

پلار مې راته کړه.

زويه اوس خو نشته چې کار مې خلاص کړ.

بيا به يې درکړم.

ماورته وويل:

سمده پلار جانه!

پدې شپه مې مور چای او سپوره ډوډۍ راوړه.

هغه مو وخوړه لاړم دخوب کوټې ته ډېر خفه وم، چی سبا به استاذ ته څه وايم.

په همدی فکرونو کې ويده شوی وم.

سهار مې مور راباندغږ وکړ:

علی حيدره زويه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای علی حیدره زویه!

ها څه وایی مور جانی.

چای دې وڅښه نور دی د مکتب وخت دی.

سمده موری!

زه راپاڅېدم مخ او لاسونه مې ومینځل، کتابونه مې راواخیستل مکتب ته روان شوم.

په لاره کې دخپل صنفي سره یو ځای شوم.

هغه راته وویل:

روپۍ دې راوړي دي.

ما ویل:

نه.

زما له پلار سره نه وې.

تا راوړي دي.

هغه ویل:

هوو ما راوړي دي.

سمده اضافه روپۍ نلرې چې زما پر ځای یې ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به یې بیا تاته درکړم.

ویل یې نشته.

زما ډېر فکر خراب شو.

مکتب ته ورسیدؤ.

استاد حاضري راوخیسته.

ویل یې:

چې د هرچا نوم مې اخیستو.

هغه دې روپۍ راوړي.

سمده.

استاذ چې یو څو نومونه واخیستل ټولو روپۍ ورکړې.

زما نوم یې واخیست.

ما ورته وویل:

استاد جانه!

زما سره اوس نشته.

بیا به یې درته راوړم، استاذ غوسه شو.

او زه یې له صنف څخه وویستم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورته راغلم.

مور راته وویل:

بچیه ولې دومره وختي راغلې خیریت خو دی.

ماوویل:

هو مورې اجازه مې راواخیسته.

سمده زویه!

درس دې وایه سهار بیا د تېر په څېر مور راباندې غږ وکړ.

اوزه پاڅېدم چای مې وڅښه.

کېناستم مور راته ویل:

زویه ولې ناست یې د مکتب دې ناوخته کیږی.

ماورته وویل:

موری له ما سره پیسې نشته.

د تول صنف هلکانو پیسې ورکړي دي.

زما پاتې دي.

مکتب کې راته استاذ غوسه کوي.

مور مې ویل ته راځه زه یی له چا څخه درته قرض کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روپۍ يې راته قرض کړې.

زه مکتب ته روان شوم.

استاذ ته مې روپۍ ورکړې.

استاذ وویل:

غوږ ونیسۍ درې شپې وروسته مو امتحانونه دي.

امادګي ورته ونیسۍ .

سمده استاد

کورته راغلم.

کتابونه مې راوخیستل، ښه مې مطالعه کړل.

خوب راغی ویده شوم.

دری شپې تېرې شوې.

سبا مو امتحانونه ؤ.

زه هم روان شوم مکتب ته استاذ هم راغلی وو.

امتحان مو ښه خوندور وو.

ماتر ټول صنف ښه پارچه حل کړې وه.

استاذ هم راته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوښښ کوه علي حیدره!
آفرین دېر ښه سوالونه دې حل کړي دي.

امتحانونه خلاص شول.

څلور ورځې یې رخصتي راکړه.

رخصتی هم خلاصه شوه، مکتب ته ولاړم.

نور ملګری راغلي وو مجلسونه روان وو.

چا ویل چې ما ته مې پلار د کامیابۍ په تحفه کې بایسکل اخلي.

چا ویل:

چې ماته مې پلار د کامیابۍ په تحفه کې موبایل اخلي.

خو زه همداسې چوپ وم،

ځکه زما غریب پلار د ډوډۍ نه درلودې.

نو ماته به یې تحفه په څه اخیسته.

استاذان راغلل، ټول کتار-کتار شولو د نورو صنفونو نمرې اعلانیدی.

د نور صنفونو چې خلاصې شوې نو زموږ د صنف شروع شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاذ راغی.

اول یې زما نوم واخیست.

اول نمره شوم.

دیر خوشحاله شوم کورته راغلم.

مور ته مې وویل:

مور مې هم ډېره خوشحاله شوه.

او ښکل یې کړم.

چای او ډوډۍ مو وخوړه، شپې مې پلار راغی.

هغه ته مې وویل:

پلارجانه!

زه اول نمره شوم هغه دیر خوشاله شو.

لس شپې وروسته اختر هم وو.

د مکتب رخصتي د اختر تر څلورمې ورځې پورې وه.

اختر راغی.

د غم اختر وو، زما مور هم لږه مریضه وه.

زما کالي هم نه وو، ټولو ملګرو مې نوي کالي کړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ما نه وو کړي.

وروسته د اختر نه مې مور سخته ناجوړه شوه، پلار مې ډاکټر ته بوتله.

هغه ورته ویلی وو.

چې کابل ته یې بوځې دلته یې علاج نکیږي.

زما فکر دیر خراب وو، ځکه زما همدا یوه مور زما خوشالي وه.

بله ورځ مې پلار مور کابل ته پوتله.

کابل کی ډاکترانو ورته ویلي وو، چی دا باید عملیات شي.

عملیات ته ۴۰۰۰۰زره افغانی پکار دي.

نو زما پلار سره روپۍ نه وې، نو یو درشکې پټی مو گرو کړو.

بیا لارل کابل ته عملیات یی وکړ.

او ځلور شپی یی بستر کړل.

ځلور شپې وروسته کورته راغلل.

داکتر ورته ویلی وو چی شل شپی وروسته به یی بیا راولی.

شل شپې وروسته بیا مور اوپلار لارل کابل ته .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل کی داکتر ورته ویلی و.

تاسی دا باید پاکستان ته بوځی.

پلار می راغی کورته روپی یی دچا څخه قرض کړې.

لاړل پاسپورت یی جوړ کړ.

او پاکستان ته ولاړل.

زنګ به می ورته کاوه.

پلار به مې ویل:

اوس دې مور ښه ده.

هلته یې یو څه دوا ورکړی وه.

کور ته راغلل، مور می نوره هم خرابه شوی وه.
دیر فکر می خراب شو.

خو بدبختانه چې مور مې له دنیا ولاړه.

زما زړه داسی درد کولو چې ډیر ډیر می ژړل.

خو په ژړا هیڅ نه کېدل.

خو بیا مکتب شروع شو، ډیر وخت نه ورتلم.

ډیر خفه وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې زما مور ډېره راباندې ګرانه وه.

یوه میاست وروسته د استاذ سره مخ شوم، هغه لږ ډاډګېرنه راکړه.

راته یې وویل:

سبا ضرور مکتب ته راشه.

ګنې محرومېږی ضرور به راځې.

ما ویل سمده.

سبا مکتب ته لاړم.

هغه خوند او مزه نه وه په مکتب کې وخت تېرېده.

په غم او په فکرونو کې وم.

له ژونده مې زړه تور وو.

امتحانونه راورسېدل، ماته یې هېڅ خوند نه راکولو.

پدې کال زه له اول نمره ګۍ څخه ۳۹ مې نمرې ته را ټیټ شوم.

غوښتل مې چې ځان وژنه وکړم.

نو پدې وخت کې مې یوه جنۍ ولیده.

دیره ښایسته او ښکلې ښکاریده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته یې وویل:

ولې داسې خفه یې ما ورته ټوله کیسه وکړه.

هغه ډېره خفه شوه.

بیایې راته وویل:

خېر دا خوژوند دی.

مقابله ورسره وکړه، ډیرې خبرې یې راته وکړې.

زړه مې لږ راحت شو، جنۍ به هر وخت زما سره لیدل دیرې خبرې به یې راته کولې.

ما مکتب هرڅه پریښې وو.

خو هغې بیا مجبوره کړم تر څو مکتب شروع کړم.

د هغې په لیدو مې غمونه کمېدل.

ورو ورو وربانديې مین شوم، بیا مې لږ ژوند سم شو .

خو کور راته زندان وو.

دې انجلۍ راته وویل:

مکتب شروع کړه.

ضرور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ویل:

سمده وخت تېرېده.

ما غوښتل چی د مینی اظهار ورته وکړم.

خو ما نشوای کولی.

خو اخر هغې راته وویل:

چې مینه درسره لرم.

ما هم ورته وویل:

مینه درسره لرم.

غم مې ورو   ورو کمېده.

وخت تېرېده.

د هغې جنې سره به می هر وخت لیدل.

له ډېر وخت وروسته د هغه کورنۍ هغه له بیرون وتلو منع کړه.

ما به د هغی انتظار کاوه.

خو هغه نه راتله.

بیا مې د ژوند هیلې مرې شوې بیا له ډېر وخت وروسته مې موبایل ته مسیج راغلی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکلي یې وو.

(اسلام عیکم)!

ماورته ولیکل:

وعلیکم سلام!

وبښه ځان دې راته معرفی کړه.

بل مسیج راغی نوم یی راته واخیسته.

زړه مې ډېر خوشاله شو.

زما پوښتنه یې وکړه.

ما ویل:

اوس ښه یم ته سنګه یې.

ویل یې:

الحمدلله!

زه هم ښه یم.

ډیره ګپه مې ورسره وکړه.

هر وخت به مې مسیج ورته کاوه، دیر وخت وشو.

مسیجونه مو کول د هغه ساده موبایل وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسیج مصرف هم ډېر وو.

ځکه په یوه مسیج ۲ افغانۍ کټ کوي، نو ما وغوښتل ترڅو یو موبایل ورته واخلم.

لاړم.

موبایل مې واخیست.

اوس نو ده ته د ورکولو لار یې هم نه وه.

ما ورته سیمکارت اوانټرنیټ او واټساف فعال کړل.

مسیج مې ورته وکړ.

چې موبایل مې اخیستې هغه راته ویل:

سه دې کولو په هغه روپیو به دې ځان ته چیشی اخیستی وی.

ما نه خو د مسیج مصرف دیر زیات وو.

پدې کې مې واتساپ فعاله کړی دی.

مصرف یې کم دی .

اوس دا راته ووایه چې څنګه به یې درکوم.

هغې راته وویل:

سبا زموږ د ماما د زوی واده دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه هلته ځم په لاره کې یې راته کېږده.

ما ویل سمده.

لاړم موبایل مې د خاورو لاندې پټ کړ.

او شین پلاستیک مې یې پر سر کېښود.

هغه ته مې دا نښاني وویله.

او زه و لاړم پټ هلته کیناستم.

ماویل:

چې بل سوک یې وانه خلي خو د خدای پاک مهرباني وه.

د هغه ورور له هغه ځخه مخکې روان وو.

او هغه جنۍ موبایل واخیست.

زه ډېر خو شحاله شوم، بیګا مې ورته مسیج کولو خو جواب یې نه راکوه.

زه ډیر خفه شوم د شپې یوه بجه وه خوب راغی.

په همدې فکرنو کې ویده شوم.

سهار چې پاڅېدم موبایل می راواخیست، مسیجونه راغلی وو.

زړه مې ډېر خوشحاله شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسیج کې یې ویلی وو.

ګرانه وبښه!

زه ډیره مصروفه شوم.

سنګه یې!

ما ویل ښه یم.

ته سنګه یې!

ویل یې الحمدلله ښه یمه.

شکر چې ښه یې راته یې وویل:

مکتب ته ځې ما وویل:

هو.

هغه وویل:

په څو بجو ما ویل په اتو بجو ځم.

نو لاړ شه ناوخته کیږي ګرانه!

سمده ګرانی ځم.

کوشش کوه سمده.

شه وخت ګرانی مننه ستا هم شه وخت لارم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکتب لړ مې بیا مکتب ته زړه کېږده.

درس مو وایه ما هم یو ځلي بیا کوښښ شروع کړ.

لس شپې وروسته کلني امتحانونه وو.

کوښښ مې کاوه.

د مکتب نه راغلم ډیر خفه شوم.

ځکه چی مور مې ژوندی وه.

هغی به راته چای او ډوډی تیار سم کړي وو.

خو اوس یې یادونه شته او هغه نشته.

لارم چای او ډوډی می ځان ته راوړل او ومی خوړل.

کتابونه می راواخیستل، مطالعه می شروع کړه.

چی موبایل ته مې مسیج راغی هغه جنۍ وه مسیج کې یې لیکلي وو.

راورسېدې له مکتبه.

ماورته وویل:

هوو ګرانی راورسېدم.

لس شپې وروسته مو امتحانونه شروع کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې راته وویل:

کوښښ کوه .

که له ۳۹ نمرې سخه ۷ نمرې ته راغلی نو زه درته کالي کړم.

او که له ۷ نمری ټیټ وې، نو هیڅ تحفه نه درکووم.

ما ویل:

سمده کوښښ کوم .

خو ته به دا کالي سنګه ماته راکوې.

ته خو بیرون نشې راوتلی.

ویل یې:

ته ځان کامیاب کړه کالی زه په کوم رقم درته رسوم سمده؟

ما ویل سمده.

مننه ما ویل سمده ګرانی.

جنۍ وویل:

کوښښ کوه زه ځم پلار مې راغی ډوډی وروړم .

ماویل سمده ګرانی ښه وخت ولری .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کتاب کتلو مې پیل وکړ.

چې دروازه ټک ټک شوه.

زه ورغلم چې ومې کتل هغه سړی وو، چې زما پلار ورنه روپۍ قرض کړې وې.

سترګې مې ورسره وکړې.

زما لاس یې بیرته را ټیله کړ.

راته یې وویل:

روپۍ مې راکړه کنه بیا به وایې چې خبر نه وم.

ما ورته وویل:

سمده کاکا چې پلار مې راولیګلې دربه یې کړم.

سړی لاړو خو ډیر ښکنځل یې ماته وکړل.

ما هېڅ ورته ونه ویل.

ډیر فکر مې خراب شو.

غوښتل مې چې کار پیداکړم کار وکړم.

هغه متل دی.

(د پړانګ او د پاړ تر منځ شوم )

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مکتب پرېږدم، مینه مې له لاسه ورکوم.

او که مکتب وایم، خلک رانه پیسې غواړي.

پلار ته مې زنګ وکړ، پلاره زه درځم ایران ته د کرایې لپاره روپۍ راولېګه.

هغه راته غوسه شو.

راته یې ویل:

پام ګوره زویه داسې ونکړې مکتب دې وایه چې روپۍ دې پکارېدې زه یې درلیګم.

ماویل:

سمده پلارجانه خوزه یې پرېښږدم، دېر تینګار یې وکړو.

ما هم د هغه خبر ومنله.

او ورته ومې ویل:

چې پلاره هغه تا چې روپۍ ورنه قرض کړې وې.

هغه سړی پیسې غواړی.

پلار مې وویل:

سمده زویه خو د هغې د وعدې وخت هم لا پوره ندی.

خو زه یې درلیګم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړۍ راسره شته لړۍ به قرض کړم .

ته دې درس وایه زویه .

ما وویل:

سمده پلار جانه!

روپۍ یې راولیګلې ما هم هغې سرې ته روپۍ کورته وروړې بیرته کور ته راغلم.

کورهم دزندان په څېر وو.

ځکه چې مور مې نه وه.

امتحانونه شروع شول، ښه روان وو.

اخر خلاص شول لس شپې رخصتی یې راکړه.

هغی جنۍ ته مې مسج کولو هر وخت.

ورته ومې ویل:

کالي مې تیار کړه.

هغې وخندل.

ما ورته وویل:

ولې خاندی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل یې:

همداسې مې وخندل.

نه نه اوس به راته وایې ویل یی:

چی ته په ځان باوري یې چې کامیاب یې ما ویل:

هوو .

ښه سمده د نتایجو عکس به دې ماته رالېګې.

ما ویل سمده ګرانی .

نتایج اعلان شول، زه ۶ نمره شوی وم.

ډېر خوشحاله شوم راغلم کورته خو کور کې کې مورکۍ نه وه.

بیرته بیرون ته راووتم.

عکس می جینۍ ته ولېګه.

هغه هم ډېره خوشحاله شوه.

او راته یې وویل:

جایزه دې وګټله.

ماویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوو.

اوس نو سنګه راکوې زما تحفه که څوک دې ونه وینې.

ویل یې ته فکر مکوه.

زه نن څم په ۹بجو کاریزه ته هلته کالی مینځم.

هلته راشه زه یې په اوبو کې در خوشې کوم.

او ته یې ونیسه.

ما ویل:

سمده ګرانې زه دېر خوشحاله شوم.

چی زه هم یوداسې څوک لرم چی په غم می خفه کيږي.

او په خوشالۍ مې خوشحاليږي.

ورغلم کالي مى راوړل.

دېر ښکلی ګریوان او ډېر ښکلی رنګ یې وو.

زه دیر خوښ شوم، لاړم کالی مې خیاط ته یوړل.

د خیاط هم ډېر خوښ شول.

د کالو اندازه یې ونیوه.

او زه ترې کور ته راغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور کې مې دېګ وکړاو ډوډۍ مې وخوړه.

د ماسپښین لمونځ لپاره مسجد ته ولاړم.

ملګرو راته ویل:

علي حیدره اوس سنګه یې؟ درسونه دې سنګه دي؟

ما ورته وویل:

الحمدلله اوس ښه یم.

له جومات لاړم ځخه راساً ولاړم خیاط ته کالي مې راوړل.

ډېر ورته خوشحاله ومړ.

ځکه زما ژوند په غریبۍ کې تېر شوی وو.

ښه کالی مې نه وو لیدلي په لاره کی خپل خالق ته په سجده شوم.

او داسې دعا مې وکړه:

یا ربه!

ته خو مې دغه انجلۍ نصیب کړې.

زما د مور غمونه یې ټول را ځخه هېر کړل.

ډیره ښکلې انجلۍ وه.


(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یې د ژوند کولو لپاره یو ځل بیا راوچت کړم.

زما ډیره مینه ورسره ده.

پای



**نور وروسته بیا لیکم ،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ملګرو تر همدې ځای می رسولی دی.**

**او ماته دوعا کوی.**

**چی هغه انجلۍ مې نصیب شی.**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**